د زده کولو او ښودلو د حلقو

# جدول

# د اولاد 3 حقونه

(ځلورم قسط)

7 اګست، 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: 5 منټه (2): دُعا يادول: 5 منټه (3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه.

نن به د زده کولو او ښودلو په حلقو کښې **د اولاد 3 حقونه** (خلورم قسط) په باره کښې فائده مند معلومات ورکولے کيږي او **د خوب نه د راپيداريدو دعا** به يادولے شي. او په آخر کښې به د نيکو اعمالو د رسالې نه اجتماعي جائزه هم اخستلے کيږي. اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيْم!

## د درود شريف فضيلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صلی اللہُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم **فرمان دے**: چا چې په ما باندې 1 ځل درودِ پاک اولوستو **الله** پاک په هغهٔ 10 رحمتونه ليږي او د هغهٔ په نامه اعمال کښې 10 نيکۍ ليکي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اولاد 3 حقونه (خلورم قسط)

### آيتِ مبارکه

**الله** پاک فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَ لَاۤ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِۚ

(پارہ:28، سورة المُنٰفِقُوْن: 9)

تَرْجَمَهٔ كَنْزُالْعِرْفَان: اے ايمان والؤ! ستاسو مالونه او ستاسو اولاد دې تاسو د **الله** د ذِكر نه غافله نهٔ کړي.

---

[1] ...ترمذی، ابواب الوتر، باب فی فضل الصلاۃ علی النبی صلی اللہُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:144، حدیث:174-

معلومه شوه چې د مال او اولاد محبت، د هغوئي خيال ساتنه او پالنه کښې دومره زيات مشغوله کيدل چې د **اللّٰه** پاک ياد هم د زړۀ نه اوځي، مثلًا [د هغوئي پالنه کښې د مشغوليدو په وجه] د نمونځونو وخت نۀ ميلاويږي، د حلال او حرام تميز پاتې نۀ شي نو دا سخت نقصان دے. انسان له پکار دي چې د اولاد د پالنې کولو په وخت کښې د نيکئ طرف ته راغب اوسي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! اولاد به يــې نيک وي او د دنيا سره سره به په آخرت کښې هم فائده ورکوي.

## فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: يوه زمانه به داسې راشي، (چې د خپل ايمان حفاظت کول به ډير مشکل شي،) د هم هُغه کس ايمان به **محفوظه** پاتې وي، څوک چې د خپل ايمان د حفاظت د پاره، د يو غار نه بل غار طرف ته او د يو غر نه بل غر طرف ته ځي، په هُغه دَور کښې به د **اللّٰه** پاک د نافرمانئ نه بغير رزق نۀ حاصليږي، په داسې صورتِ حال کښې به بنده د خپل بال بچ په وجه هلاکيږي، که ښځه او بچي يــې نۀ وي نو د مو او پلار په وجه به هلاکيږي، که مو او پلار يــې هم نۀ وي نو د هغۀ هلاکت به د خپلوانو يا ګاونډيانو په وجه کيږي، صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يا رسول **اللّٰه** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم! دا به څنګه کيږي؟ (يعنې انسان به د خپل کوروالؤ په وجه په هلاکت کښې څنګه اخته کيږي،) ويــې فرمائيل: هغوئي به هغۀ ته د تنګدستئ په وجه پيغورونه ورکوي، د دې په وجه به هغه خپل ځان د هلاکت ځائ ته ورسوي.[(1)] (يعنې هغه کس به د خپل کور والؤ (بال بچو وغيره) د پيغورونو نه ځان ساتلو د پاره په مال حاصلولو کښې د حلال او حرام پرواه نه کوي).

---

[1]...الزهد الكبير للبيهقي، صفحه:183، حديث:183۔

# د اولاد 3 حقونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د اولاد ډیر حقونه دي، د کومو نه چې 9 حقونه مونږه مخکښې زده کړي دي، 3 به نن زده کوو. راځئ چې وړومبے د زده کړو حقونو دوهرائي وکړو: (1) د ښې مور انتخاب (یعنې د بااخلاقه او دینداري ښځې سره نکاح کول) (2):د ماشوم په غوږ کښې اذان کول (3): تحنیک (یعنې ګُهتي ورکول) (4): ښه نوم ایښودل (5): عقیقه کول (6): ښه تربیت کول (7): په اولاد کښې برابري کول (8): د اولاد خرچې اوچتول (9): ښه رشته میلاویدو باندې د هغوئي وادهٔ کول.

**راځئ چې نور 3 حقونه زده کړو:**

## وړومبے حق: ختنه کول [یعنې سُنَّت کول]

**وضاحت**: ختنه [یعنې سُنَّت کول] شعارِ اسلام (یعنې د اسلام پیژندګلو) ده، هم دې وجې نه دې ته [بعضې خلق] مسلماني هم وائي.(1) په بعضې علاقو کښې دې ته سُنَّت هم وائي. یعنې هٰغه ښه طریقه کومه چې د انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام نه راروانه ده. د ختنې شروع د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام نه شوې وه. اَلْحَمْدُلِلّٰه! په مسلمانانو کښې دا ښکلې طریقه رائج ده. اللّٰه پاک دې مونږ ته په دې باندې استقامت رانصیب کړي.

## دویم حق: دیني تعلیم ورکول

**وضاحت**: د دین هٰغه مسئلې د کومو چې انسان ته فِي الحال ضرورت وي، هغه زده کول فرض دي.(2) نو د اولاد په حقونو کښې شامل دي چې هغوئي ته کم از کم فرض علم خو لازمي

---

1…بهارِ شریعت، جلد:3، صفحه:589، حصه:16۔

2…فتاوی رضویه، جلد:23، صفحه:647۔

زړه کړے شي. کاش چې مونږ خپل اولاد حافظ، عالم، مفتي جوړ کړو! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دنيا او آخرت بېشميره برکتونه به رانصيب شي. نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې قرآن اولوستو، په هغې يـې عمل اوکړو، په ورځ د قيامت به د هغهٔ مو او پلار ته داسې تاج ور په سر کړے شي، چې د هغې رڼا به د نمر د رڼا نه هم زياته وي،(1) او داسې دوه جامې به ورواغوستلے شي، د کومو په بدله کښې چې د دنيا هيڅ حيثيت نشته.(2)

## دريم حق: د لور ښه پالنه کول

**وضاحت:** خاص د لور يو حق دا دے چې د هغې په پيدائش دې څوک غم نهٔ کوي بلکې زياته خوشحالي دې اوکړي، او د **اللّٰه** پاک د رضا په خاطر دې د هغې ډېره ښه پالنه اوکړي.

**د احاديثو مطابق د لوڼو د پالنې فضائل:** ❀ په کوم کور کښې چې لور پيدا شي فرښتې په هغه کور والؤ باندې سلامتي ليږي(3) ❀ څوک چې لور ته تکليف نهٔ ورکوي، لور د زوئي نه کمه نهٔ ګڼي، **اللّٰه** پاک به هغه جنت ته داخل کړي(4) ❀ چا ته چې د درې لوڼو د پالنې موقع نصيب شي، په هغهٔ جنت واجب شي.(5)

## دوهرائي

نن مونږه د اولاد 3 حقونه زده کړل، ياد يې لرئ: (1): ختنه کول (2):ديني تعليم ورکول (3): د لور په پيدائش غم نهٔ کول.

---

[1] ...ابوداود، كتاب الصلاة، باب فی ثواب قراءة القرآن، صفحه:239، حديث:1453۔

[2] ...مستدرك، كتاب فضائل القرآن، باب من قراء القرآن وتعلمه وعمل به...الخ، جلد:2، صفحه:278حديث:2086۔

[3] ...جامع صغير، صفحه:69، حديث:69، ملخصًا۔

[4] ...مستدرك، كتاب البر والصلة، باب من كن له ثلاث بنات فصبر على لاوائهن، جلد:5، صفحه:249، حديث:7428۔

[5] ...معجم اوسط، جلد:4، صفحه:347، حديث:6199، ملخصًا۔

# د زده کولو او ښودلو په حلقو کښې يادولو والا دعا

## د خوب نه د رابيداريدو نه پس دعا

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَحْیَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ

ترجمه: ټول تعريفونه د الله پاک د پاره دي چا چې مونږ ته د مرګ (يعني خوب) نه پس ژوند (يعني راويښيدل) راکړل او مونږ لره هم د هغهٔ طرف ته ورګرځيدل دي.[1]

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واره نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نمونځ نه پس مو آية الکرسي، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَةُ الْاِخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پهٔ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکتبة المدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟

[1] ...بخاری، کتاب الدعوات، باب وضع الید الیمنی تحت الخد الایمن، صفحہ:1560، حدیث:6314۔

(16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا په تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آیا په مکـتبة الـمدینه بالغان کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس په دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو په دیني کارونو باندې لګولي؟ (21): آیا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاځول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا په کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو په سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ګیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو په شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو په سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةِ اللیل مو ادا کړې؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړي؟ (36): آیا په 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلی نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آیا په وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزی داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئیلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آیا د صفایی او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانونو په حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئیلي؟ (47): آیا چوک

درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زرۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

❀ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ❀ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❀ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو نه بغير خبرې 12 کرته.

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو ځوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلي تپوس يا غم خورې او د چا پۀ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو پۀ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا محکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره ترون پيدا کړو؟